# څيرې ګرېوان

(شعري ټولګه)

شاعر

[illegible]

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه:

......................................

د کتاب نوم: څيرې ګرېوان

شاعر: بورجان غايب

کمپوز: عبدالوهاب مومند

اړیکه: (۷۴۹۰۴۳۸۳۴) wahabmomand90@gmail.com

ایډېټ: د بغلان ادبي بهير کره کتنې ګروپ

خپرندوی: بغلان ادبي بهير

خپرنځی: شمال خپرندویه ټولنه/مزار

چاپ شمېر: ۵۰۰ ټوکه

چاپ وار: لومړی

چاپ کال: ۱۴۰۲ل / ۲۰۲۳ع کال

کچه: رقعي

ددې کتاب د چاپ، پر ويب پاڼو او ټولنيزو رسنيو د خپرولو حقوق له خپرندويې ټولنې سره خوندي دی!

ketabton.com - The Digital Library



# ډالۍ:

د خپل شعر سپېڅلي غږ ته!

ketabton.com - The Digital Library



# بورجان «غايب» د شعر په دنيا کې

شعر پېژندونکي وايي، څومره چې شاعر په شعر پوهېږي، هغومره يې شعر کمېږي، نه پوهېږم چې د شعر پوهانو دغه اټکل به څومره شاعران ورسره ومني، په اوسني حالاتو کې د ادب په نوم تر ناول، لنډې کيسې، رومان او نورو اثارو شعر ويل او شعر ليکل ډېر شوي او هم د شعر کتابونه زيات چاپ شوي دي، دا ځکه چې په اوسني عصر کې د شعري ټولګې په چاپولو بنديز نشته، که ادبي مرکزونه د شعر ټولګه نه چاپوي، خو اوسني حالاتو دومره سهولتونه رامنځته کړي چې حتا دا دی ځينو شاعرانو په خپل شخصي لګښتونو خپل کتابونه چاپ او لوستونکو ته وړاندې کوي.

د کتاب په کيفيت خبره نه کوم، دا پرېږدم لوستونکو ته چې قضاوت پرې وکړي، خو هر شاعر او ليکوال دا ارمان لري چې کتاب يې چاپ شي چې له هغه جملې زه پرې ليکنه کوم، د بورجان «غايب» شعري ټولګه «خيرې ګرېوان» ده چې د غايب په ژوند دا لومړۍ ټولګه ده چې چاپېږي. ښاغلی بورجان «غايب» په مرکزي بغلان کې «د کوږ چنار» په نامه د ادبي بنډار مينه وال و او د بهير په يو ادبي بنډار کې د ګډونوالو ادبي تنده په دا لاندې غزل کې داسې ماته کړه، لکه د شبنم پرخه چې د ګلاب په ستوني کې رغړي را لغړي او د ګلاب بوټي ته روڼوالی او ښکلا وربښي.

مشاعرې وي شاعران وي زه دې نه يم
تل خوشحاله دې ياران وي زه دې نه يم
کوږ چنار به سم چنار شي چې قوت وي

ketabton.com - The Digital Library



هر ضعیف دې پهلوان وي زه دې نه یم
لکه ستوري په اسمان کې وي روښانه
هم دې تندر هم توپان وي زه دې نه یم
د خوشحال او د رحمان شمع ترې غواړم
هر یو پوه لکه لقمان وي زه دې نه یم
هر میدان کې یې برى له خدایه غواړم
د دنیا دې اتلان وي زه دې نه یم
تر ابده به حیات وي مرګی نشته
په انسان کې انسانان وي زه دې نه یم
یو بیت شعر به یې په درست جهان ور نه کړم
ما ته ګران د خپله ځان وي زه دې نه یم
معلومېږي چې شفا مې د هر رنځ دی
هم طبیب وي هم درمان وي زه دې نه یم
غایب بل ته په دعا دی ځان یې هېر دی
تل دې دا ارزو ارمان وي زه دې نه یم

غایب صاحب د مطلبي، خودخوا او پر ملګرو سر ټکولی او ناراضه ښکاري او د قلم په ژبه یې داسې غندي:

بد ملګری دې چې مل شي
ښه قسمت به دې بدل شي

د ژوندوانه په اوږدوکې بعضې انسانان د خپلو ستونزو د حل لپاره مثبتې لارې چارې تموي، چې په ژوندانه کې د خیر ښېګنې او ښیرازه ژوند د لاس ته راوړلو لپاره هڅې کوي او ځان خپلې موخې ته رسوي او ځینې داسې ځوانان هم شته چې د ځوانۍ په نیلي سپور؛ نه د دنیا او نه د

ketabton.com - The Digital Library



اخرت غم لري او د خوب او خیال په زانګو زانګي؛ فکر کوي چې تل به ژوندي وي، هغه د فارسي ژبې یو متل دی وايي «ابله زنده خوش است» نن سبا ټکنالوژي پرمختګ کړی او داسې برقي ابزار په نني نړۍ کې پیدا شوي چې په مثبتو لارو کارول یې ګټه لري. خو اوسني ځوانان یې په منفي لارو کاروي. لکه غایب صاحب مبایل ته په څو بیتو کې داسې اشاره کړې ده:

موبایل کې ګانې ګورم نه د مشر په منت یم
د ګټې د کار نه یم نه هېڅا ته ملامت یم
د کارت به درغجن شم چارج هم نشته ده لالیه
د جیب په موبایل باندې ځوانانو کې اوچت یم
ګانې د کنجشکک مې دي ثبت کړي موبایل کې
چې را ټول په ما ځوانان شي بیا د ټولو د صفت یم
د کور و تباهي ته مې بس دا لیڅې را نغښتلي
ځوانان راته ښه وايي مور او پلار ته مصیبت یم
د ښو پر ځای د بدو ګټه واخلم مبایل نه
په کومه لار روان یم چې ګوښه له شریعت یم
سر ټیټ سترګې مې ښکته لوفري یم شرمولی
راتلونکی شوله ورانه چې اخته په دې لعنت یم
نه مې خپله لار صحیح کړه نه بل چا ته په خبرو
نه مې خپل ځان پېژندلی نه خبر په مسوولیت یم
نه مې شرم له چا کیږي رینګ مسکال مې شوله دنده
نه په سیال او غم پوهېږم نه خبر زه له غیرت یم
خوله دې بنده که غایبه مه کوه سپینې خبرې
که هزار ځله مې ګرم کړې زه په جهل سلامت یم

ketabton.com - The Digital Library



د اور له خولې ګلان نه دي ټوکېدلي، اور سوزول کړي، اور وراني دی، اور تباهي ده. کلونه کېږي چې زموږ ګران هېواد افغانستان کې د جنګ تورې وریځې را خورې دي چې تورو وریځو توره د غم شپه او د جهالت توره لمن چې د شرق او غرب لخوا را خوره ده او ذره چې دا تورې وریځې په سپینو وریځو بدلې شي او لکه د پسرلي په شان په لوړو او ژورو، سمه او غر د رحمت بارانه څاڅکي، ژوندیو ژوو او نباتاتو ته د ښیرازه ژوند هر کلی وایي، غایب صاحب هم د ګران وطن په ناخوالو ژړېدلی چې وايي:

څوک په مرمۍ څوک په بمو ټوټې شول
په کوم پرهر په کوم بدن وژاړم
ولس يې سپر ونيوه هر توپان ته
له کوم رهبر له کوم واکمن وژاړم
د ولس کور خو سوله ساتو وران کړ
په کوم يتيم په کوم غمجن وژاړم

غايب صاحب چې کله ما د لومړي ځل لپاره د «کوږ چنار» په ادبي غونډو کې ليده، ملنګ صفته، مينه ناک ښکارېده. په يوه ادبي ناسته کې مو ځنې د تعليم په اړه وپوښتل، ويل يې چې تر نهم ټولګي پورې مې په ګاونډي هېواد پاکستان کې د هجرت په وخت کې زده کړې کړي او د اقتصادي ستونزو له کبله يې د بکلوريا تر کچې زده کړې نه دي کړي ولسي شاعر او د ولس له منځه را پاڅېدلی ليکوال دی، د کوچنيوالي يې د شعر او شاعري سره مينه وه.

ketabton.com - The Digital Library



غایب صاحب په خپل هنري فن او خیال د خپل زړه درد د شعر په قالب کې انځور کړی او په غزلیز ډول د خپل قسمت څخه نالېدلی او هم ژړېدلی ښکاري چې دا بیت کې داسې یې وایي:

له خوشحالۍ دې کړم ګوښه قسمته
ډېر یمه تا ته په غوسه قسمته
ناورین تندی د ماتولو وړ دی
روښانه ورځ دې کړه را شپه قسمته

کلونه کېږي د هېواد ولسونه د جنګ د ناورین په لمبو کې سوزېدلي او د جنګ ناخوالو د وطن په فضا توره لمن را خوره کړې ده، دا د امن فضا او د امن د لمر ځرک په امېد ورځې او شپې تېروي او د فقر، غربت سلسله لا پسې غځېږي. غایب صاحب داسې وایي:

هر چا له خپله موجوده قوته کار واخیستو
چا په ولس دی ظلم کړی چا ازار واخیستو
تېر حکومت نه موږ ته هېڅ په میراث پاتې نه شو
وخت غنیمت را نه دا ټول ظالم بادار واخیستو

ښاغلی بورجان غایب د خپل افغانیت احساس له وجې نه چا ته ژاړي او نه چا ته خپل ګرېوان څیروي. د ننګ غیرت پګړۍ یې پر سر تمبلې او د ټیټ سر ژوند یې نه خوښېږي او که څوک یې په افغانیت او افغاني غرور تور شال وغوړوي، د هغو تاریخ او فرهنګ هم په ادبي ژبه داسې څیروي. لکه دا بیتونه:

ketabton.com - The Digital Library



که د افغان په غیرت باندې څوک تور شال غوړوي
هم به يې تاريخ، هم به يې فرهنګ، هم به يې ديوان څيرې کړم
بيدار شه وخت دې د هغه ننګ او د غيرت راغلی
دا د غفلت درنه برستن به د پاسبان څيرې کړم

د ښاغلي بورجان غايب شعري ټولګه «څيرې ګرېوان» په لوستلو د مينه والو طبعه روښانه او ادبي تنده ماته کړې، په پای کې دا خبره کوم چې يو څوک د چا په ادبي اثر څېړنه او شننه کوي، د دې دوو اصولو په رڼا کې بايد وڅېړل شي، لومړی د فورم په لحاظه او دويم د محتوا په لحاظ؛ د فورم په لحاظ د بورجان غايب په اشعارو کې يواځې غزل تر سترګو کيږي او نور فورمونه لکه څلوريزې، نظم، ټپيزې او ازاد شعر څرک پکې نه ليدل کيږي نو مالومه ده چې غايب صاحب د غزل سره د ده بې کچې مينه ده، دغه راز غايب صاحب شاعري له درد احساسه ډکه شاعري ده نو مې چې د ده څو کلام نمونې ولوستلې، زړه او سترګې مې بلې خواته نشوی اړولی، تر پايه مې لوستې؛ خو څه کمی او زياتی به د سيلاب له مخې او يا د وزن له پلوه پکې وې خو هغه پرېږدو، د ده د کتاب لوستونکو ته چې قضاوت پرې وکړي.
غايب که څه هم زده کړې نه لري خو د ده ناسته پاسته علما، ادبي فنکارانو او هوښياره خلکو سره ده، وايي «ګلونه رنګ رنګ عطرونه يې يو رنګ» غايب شاعري لکه د نامتو وتلو شاعرانو په څېر له تخيل او تصويره ډکه شاعري نه ده خو په خپل ادبي هغو يې ساده، سليس کلمات او الفاظ په خپل فن کلام کې کارولي چې هر څوک يې ولولي، مانا او مفهوم ترې اخيستی شي.

ketabton.com - The Digital Library



ښاغلي غایب ته د «خیرې ګرېوان» ټولګې مبارکي وایم، د خدای ج څخه د اوږد عمر غوښتونکی یم، قلم یې خوزن او د لا زیاتو بریالیتوبونو په هیله!

په درنښت

جمعه خان توخی

د بغلان ادبي بهیر غړی

۱۴۰۲/۲/۲۲

ketabton.com - The Digital Library



# غایب ستوری

که د غایب ستوري په لټون یاست، نو د مرکزي بغلان د ښار سیمو څخه د ډېرو شاړو او کروندو ځکمه څخه به تېرېږئ، د بغلان سیند څخه به پوري غاړې اوړئ، سیند به د شنو کروندو منځ کې پاتې کېږي او تاسو به ترې ځئ، څو چې د کوږ چنار او منګلو کلي رویباري کوځ تر هغو به د آل خواجه او نوروزک شاړې للمې تاسو ته انتظار باسي، هو منګلو په کلي کې د هغو شیهدانو جنډې ښه په خوند رپېږي کومو چې د وینو څښونکو اجنبیانو جنډې ورټيټې کړې، له دعا وروسته به د خدایدادخېلو په مالت پېښن شئ، له دې ځایه د غایب ستوري څېرې ګرېوان ریښکی پیلېږي یو صادق او د نړۍ له ډېرو شرلټو عناصرو سره نا اشنا، غایب بورجان ژوند کوي هلته یې کور او ادیره ده، لګیا دی د سمون او اصلاح لپاره خپلو هم اره موجوداتو ته نصیحت کوي او ژاړي.

و سترګو ته مې ګوره ستا د مینې اوښکې څاڅي
کاذبې اوښکې ندي ته پر ما نشې غلط

دغه له سترګو غایب ستوری د خپلې ټولنې نبض سم پېژندلی او د بل انسان غاړې ته ناروا غم ور اچول چې د ناسمو رواجونو څخه سرچینه اخلي، ترې ځورېږي په پوره جرئت او نرم کلام سره د ټولنې وګړو ته د نصیحت ژبه کاروي.

ظلم چا وکړ، چا یې غم، چا یې سزا ولیده
چې خور او لور په کې زخمي شوه دغه ښکار څه پکار

ketabton.com - The Digital Library



غایب بورجان د میني له هجره  په ځان تاوېږي، ملنګ غایب په وجود کمزوری او په ږېره کې سپین پیدا کړي دي، خو د هجر او نا متوازن وېش څخه لا هم په شکایت او ژړا دی، لا يې دغه درد نه ده هېر شوی او ښکاري چې دغه ښکارنده لکه د وجود غړي تر ډېره ملګرتیا کوي.

د ماهي په شان په وچه کې لویدلی یم غایبه
یار مې ستوری د اسمان شو راته مه وایه مه ژاړه

د کرکر ګلونو دغه غایب ستوری لکه د ټولنې نور ناصح انسانان د خپلې چیغې تقدس او د اورېدونکو کاڼه غوږونو له ځوره په ځان راغلي دي، لکه د نوح لارویان عمر يې د قوم اصلاح ته وقف کړ خو د محدودو اورېدونکو پرته ټول قوم د عذاب اوبو وخوړ، په سرو سترګو غایب محزون اسویلي وباسي.

وچاته وژاړم، و چاته خپل ګرېوان څېرې کړم
فریاد مه نه اوري که ټول کمیس په ځان څېرې کړم

ملنګ غایب د نصیحت کچکول ټولو ته اوږد کړی دی او د خپلې سپېڅلې توبرې څخه په هر موجود ښېګڼې او نېکې لارې وږم شیندي، د حاکمیت تخت ناستو ته د بقا او فنا سبق ښه په خوند اوروي.

غایب قسم خوري ما خو ډېر واکمن ذلیل ولیدل
چا چې د خپل مظلوم ولس نه فاصله زیاته شوه

الله تعالی د کرکر ګلونو کاروان د همداسې ګړندي او محفوظ ولري، چې راتلونکې نسلونه يې د پند او ادبي ښکلاو څخه له باران ګټمن شي، بورجان غایب صیب ته د (څېرې ګرېوان) لومړی شعري ټولګې

ketabton.com - The Digital Library



چاپ مبارکي وایم او همدا راز د بغلان ادبي بهیر ټول غړو ته چې د کتاب چاپ اړونده موضوعات لکه: کره کتنه، اېډېټ، کمپوزینګ، خپرندوی او ټولې چاپ چارې یې په بریالي توګه مدیریت کړل، ټولو ته بیا بیا مبارکي وایم.

په ادبي مینه

عبدالمبین صافی

بغلان ادبي بهیر

۱۴۰۲- جوزا

ketabton.com - The Digital Library



## ملنګ صفته شاعر

څومره چې د شاعر پر شعر خبرې ګرانې دي، هومره د شاعر پر کرکټر هم بحث ګران تمامېږي. لکه څنګه چې د ادبپوهنې په کتابونو کې شعر مرموزه وینا بولي، همداسې د یو انسان کرکټر هم د ارواپوهنې له مخې پېژندنه یې سخته وي. آن شعر پوهان وايي چې د شعر اره مانا د شاعر په زړه کې نغښتې ده، څنګه چې د شاعر مطلب او موخه په شعر کې اوبدل شوې وي، کېدای شي موږ یې د خپل له نظره مانا ترې اخځ کړو، ځکه شاعر خپل درد ژړوي او موږ تر هغې اندازې له شعر څخه د مانا حس درک کوو چې یا مو هغه صحنه لیدلې/ اورېدلې وي او یا مو تجربه کړي وي. څه چې د شعر پېژندنه کې موږ سره تر ډېره په ظاهري مانا او تر لږ اندازې په باطني مانا کې مرسته کوي، هغه د شعري صنايعو او ځانګړنو په مرسته تشخیصول او را برسېره کول دي. په ورته توګه ارواپوهنه کې وايي چې د یو انسان کرکټر هم د هغه له کړنو، خبرو او سټایل له مخې تشخصېدلی شي، کوم چې د یوه انسان خوی او خواص هغه کرکټر او ځانګړنو خوا تمایل کا.

څومره چې ما د بورجان غایب شعرونه لوستي، هغومره مې د ده ملنګي، خلوص او مینه د ولس او وطن پر وړاندې حس کړې ده. لکه څنګه چې غایب صاحب ملنګ صفته کرکټر لري، سپینې خبرې کوي، د زړه او د خوله خبره یې یوه وي او د ملنګ په څېر ساده جامې او په یوې لرې پرتې سیمې، ملنګانه ختین کورګي کې، ژوند کوي؛ همداسې د ده شعر هم روان، سلیس، د ولس په ژبه برابر او کلیوالي رنګ لري، د زړه او د خوله خبره یې په شعر کې یوه وي او د چم ګاونډیانو ژړا، د تېر

ketabton.com - The Digital Library



شل کلن جګړې له امله د ختين دېوالونو ورانېدل او د ځوانې ککرۍ د شهيدانو درد هم ژړوي. اصله خبره همدا ده چې د غايب صاحب د شعر رسالت د ولس ناخوالې انځوروي، کله يې چې ولولې داسې فکر درځي، چې دی د مظلوم ولس د زړونو انځورګر دی، لکه څنګه چې يو ملنګ د يو چا لپاره د خير دعا کوي، غايب صاحب هم د ولس ښادي لپاره د خير لاسونه لپه کړي دي، که له يوې خوا د ولس درد ژړوي، خو له بلې خوا د خيرښيګڼې دعا ورته کوي.

د غايب صاحب شاعري کسبي نه، بلکې ذاتي ده. دا د خدای متعال يوه لورېينه ده پرې، چې ده ملنګ صفته شاعر ته يې د شعر ويلو استعداد ورکړی. غايب صاحب خپله وايي، چې يوازې تر نهم ټولګي پورې يې زده کړې کړي دي. نه دی له کوم اکاډميک چاپېريال څخه فارغ شوی دی او نه هم د ده شاعري کومه کسبي مهارتونه لري. مازې غايب د ولس لمن نيولې ده، د شاعرۍ ځانګړنې يې د ولسي ادبياتو خواصو خوا تمايل کوي او د نومورې شاعري تر ډېره طبيعي رنګ او جوړښت لري. که څه هم د شعر وزن پوهنه ورته ګرانه برېښي، خو د شعر په جوړونه کې کوم بيتونه چې تر منځ (سيلابوټونيک) هماهنګي ولري، دی خپله شاعري پر مخ بيايي او د شعر آهنګ له مخې خپل شعرونه ليکي. همدارنګه کندهارۍ لهجه د غايب په شاعرۍ کې غالبه ده، د اېډېټ او کتنې پر مهال کره کتونکو تر ډېره په معياري ژبې باندې ټينګار او سمونې کړي دي. د موضوعاتو له مخې د غايب صاحب په شاعرۍ کې د مور ستاينه، د ولور اخيستلو غندنه، معلم ته لارښوونه، فکر روزنه، د آشتي او سولې خواږه لفظونه، فساد غندنه، د ښې حکومتولۍ وړانديزونه، له هجران نه کړېدل، موبايل نه سمه ګټه

ketabton.com - The Digital Library



اخیستنه، قسمت څخه شکایت، بد ملګري، عشق او وطنۍ مینه د ده په شاعرۍ کې نغښتې عناصر دي.

بورجان غایب د یوې ټولنې منتقد په توګه خپل لیدلي حالونه یې په ښه انداز نقد او هم یې لارښوونې ورته کړي دي. د ټولنې ناوړه دود لکه «ولور اخیستل» د جنګ غندنه، هغو ځوانانو ته چې له وطنه بهر زړه ښه کوي، د شعر په ژبه ورته داسې کیسې او روایتونه رانغاړي، چې د تجاربو یوه ګډوله جوړوي. غایب صاحب خپل شعري استعداد داسې څرګندوي چې یوه کیسه او حکایت هم د شعر په ژبه اړوي، لکه ده خپل د سیمې (نوروزک) یوه جالبه کیسه په یاده شعري ټولګه کې په موزړ لولي. همدارنګه نوموړي خپلو شعرونو کې نوي ترکیبات کارولي دي، لکه نیمګړي ژوند لپاره «نیم ځالی ژوند» بل دا چې د الفبا تورې یې په مسلسل ډول په شعر کې توصیف کړي او راوړي دي.

بورجان غایب د علم خپرولو پلوی دی، نوموړي خپله سیمه کې هم په (معلم صاحب بورجان) مشهور دی او ډېره موده یې خپله سیمه کې د ښوونکي سپېڅلي دنده هم پر مخ بیولې ده. دی په یو ځای کې وایي:

نه مې دولت نه مې حساب پکار دی
زما قلم، کاغذ، کتاب پکار دی

یوه ورځ زه او «احسان الله احساس» د ده دیرې ته ورغلو، غایب صاحب خپل کلیوالي عادي ژوند باندې لګیا و، ځینو زورواکو د ښوونکي سپېڅلي دنده هم ترې اخیستې وه، دی اوس په مالدارۍ او دهقانۍ باندې بوخت و، د کور تر مخ یې د مېوو یو لوی بڼ هم درلود، ما ورته کړل، که څه هم اوس امنیت حاکم دی، جګړې نشته، نور د ژوند بدرنګۍ پرېده، خپلو شعرونو کې مینه والو ته دې د ژوند ښکلا را

ketabton.com - The Digital Library



برسېره کړه، دوی مینې ته را وبوله، چې له ژوند څخه نور هم خوند واخلي. دی یو څو شپې چورتي شو او بیا یې راته وویل (چې څنگه ټولنه روانه وي زما شاعري به هم ورسره همغه شان روانه وي.) خدای متعال دې غایب صاحب ته د عافیت ژوند ور نصیب کړي، ډېر پاک زړی انسان دی، زه نورې خپلې خبرې په دې «ملنگ صفته او ولسي شاعر» پای ته رسوم، د خوښۍ خبر دا دی چې بغلان ادبي بهیر یې د «خیرې گرېوان» شعري ټولگه چاپ کړې ده، لومړی دې ده ته مبارک وي او بیا دې د ده د شاعرۍ ټولو مینه والو ته؛ د کرکر د گلونو دا لړۍ دې تلپاتې او زرغونه وي. د نوروزک غمي د لا نورو پنځونو په هیله!

د پاچاهۍ لایقه یاره
د بزرگۍ کیسې دې واورم وویاړمه

په خورا ادبي مینه
عبدالوهاب مومند
۱۴۴۴/۱۱/۲۷
بغلان

ketabton.com - The Digital Library



# مناجات

شپه د قدر، ورځ د اختر کړې ربه
په سپين ايمان مو منور کړې ربه

تېره روژه شوه، موږ صابر پاتې کړې
د مغفرت شال را پر سر کړې ربه

الله زموږ دغه ناچيز عبادت
قبول، منظور يې په خپل در کړې ربه

يا اى هادي را هدايت که نصيب
موږ هدايت ته برابر کړې ربه

ته يې خالق او هم مالک پاچا يې
څوک په جنان څوک په سقر کړې ربه

ربه دا ستا رضا زموږ نصيب کړې
موږ يوو بدتر ته مو بهتر کړې ربه

ketabton.com - The Digital Library



د زړه مالکــــــــه راتـــــــه زړه صـــــــفا کـــــــړه
لــــر مـــو لـــه خـــوف او لـــه خطـــر کـــړې ربـــه

ســـــتا د پوښـــــتنې مــــورږ ځـــواب نـــــه لـــــرو
را شـــــــفاعت د پیغمـــــــبر کـــــــړې ربـــــــه

خـــالق ســـبحانه خپـــل حبيـــب پـــه خـــاطر
تـــه خپـــل رحمـــت راتـــه نـــاصر کـــړې ربـــه

لاســـــونه پورتـــــه د رحمـــــت پـــــه امیـــــد
روښـــانه ورځ مـــو د محشــــر کـــړې ربـــه

پـــه بنــــدګانو کـــې غايـــب ناچـــار دی
ايـــمان توښـــه يـــې د ســـفر کـــړې ربـــه

ketabton.com - The Digital Library



# قسمت

لـه خوشحالۍ دې کړم ګوښه قسمته
ډېر یمه تا ته په غوسه قسمته

ناورين تندی د ماتولو وړ دی
روښانه ورځ دې کړه را شپه قسمته

د ازلي په تقدير څه نصيب شول
زه خو له تا کوم ګيله قسمته

دومره قصور نشته چې ته يې ګڼې
چې لټوي راته پلمه قسمته

دا يو غم نه دی چې يې تېر کړمه زه
زه وزګار نه شوم يوه شېبه قسمته

وايي خزان باندې سپرلی به راشي
لږ تسلي خو را کوه قسمته

ketabton.com - The Digital Library



فکـــــر او غــــم دی خوشــــحالي کومــــه ده؟
ولــــې دې دومـــــره کــــړم خپــــه قســــمته

پــــه دې نــــيم ځــــالي ژوند ســــتومانه شــومه
نــــور بــــه کــــوې را بانــــدې څــــه قســــمته

يــا خــو مــې پرېــږده يــا لــه ژونــده وځــم
د غايـــــب دا عظــــــم وعــــــده قســــمته

ketabton.com - The Digital Library



## نصیب

د خنـــــدا پــــر ځــــای ژړا ده را نصــــــیب
د اعمالــــــــو دا ســــــــزا ده را نصـــــــیب

آیینــــــه د خپـــــل عمـــــل ده رانــــــه ورکــــــه
د خپـــــــل جـــــرم دا جفـــــا ده را نصــــــیب

د حـــــــریص دا وړې ســــــترګې نــــــه مړېـــــږي
د ظـــــــالم نفـــــس تقاضـــــــا ده را نصـــــــیب

چـــې اخـــلاص او صـــداقت نـــه وي عمـــل کـــې
بـــــس نیمګـــــړې مـــــو دعـــــا ده را نصـــــیب

مـــــدام یـــــوو د غلیمانـــــو تـــــر غـــــابښ لانـــــدې
پـــــه ملکـــــو کـــــې آریانـــــا ده را نصـــــیب

د یـــوه څخـــه چـــې خـــلاص د بـــل پـــه خولـــه شـــو
دا د کـــــوم مظلـــــوم ښـــــېرا ده را نصـــــیب

ketabton.com - The Digital Library



تـــــورې شــــــپې د تــــــوره بختــــــه را سره دي
دا د غــــم پېټــــــی پـــــه شـــــا ده را نصـــــيب

بـــس د علـــم رڼـــايي مـــو نصـــيب نـــه شـــوه
تـــــل ســـــنګر مرمـــــی ســـــلا[1] ده را نصـــــيب

خوشـــحالي پلـــوري غايـــب غمونـــه اخـــلي
ازلي دغـــــــــه ســـــــــودا ده را نصــــــــيب

[1] سلاح

ketabton.com - The Digital Library



## شمع او پتنګ

چـــې عاشـــق شـــو خـــوار پتنـــګ پـــه شـــمع بانـــدې
ټـــول وجـــود يـــې سره لمبـــه شـــو ولوېـــد لانـــدې

هـــر عاشـــق پـــه عاشـــوقۍ کـــې خپـــل مقـــام وي
خـــو تـــر ټولـــو نـــه پتنـــګ شـــو تـــرې نـــه وړانـــدې

ketabton.com - The Digital Library



# زورور

هــر چــا لــه خپلــه موجــوده قوتــه كــار واخيســتو
چا پــه ولــس دی ظلــم كــړی چــا يــې ازار واخيســتو

تېر حكومت نه موږ ته هېڅ پــه ميــراث پــاتې نــه شــو
وخــت غنيمــت رانــه دا ټــول ظــالم بــادار واخيســتو

كــوتر مــې خلــك د دې لارې نــه يــې ډېــر وژړل
اوس ډېر خوشحال دي د بې لارو ښځه يې لار واخيــستو

دا يې انصاف پــه يــو ســړك شــو بــل رمــټ پــاتې شــو
په يوه خوار باندې يــې ټــول د ســړك بــار واخيســتو

ډېر داسې ول چــې دې ســړك يــې قســمتونه خــوړل
چې راغی زور هم يې قسم، هم يــې اقــرار واخيســتو

و زورور تـــه هـــر ســـړی عـــاجزه ښـــكاري اشـــنا
خــود بــه راضي وي زورور لاس كــې متــار واخيســتو

ketabton.com - The Digital Library



**آل خواجــه شــول کــوهي کــار د ســړکونو وروره**
**د بلوڅـــانو عجيبـــه د تېـــر وخـــت وار واخيســـتو**

**مخکې بلـوڅ بـه د ځنګـل اوبـو کـې غـرق اوسـېدل**
**اوس يې په دښته کې مالچر زمونږ د پلار واخيـــستو**

**بلــوڅ چــې لارې جــوړوي کــار دې پخپلــه وکــړي**
**اهلي خواجه څخه يـې لار او هـم روزګـار واخيسـتو**

**اهلي خواجه قـوم بـه دا لـوی سـړک منلـی نـه وای**
**د طاليبــانو لــه ټوپــک څخــه يــې ډار واخيســتو**

**غايـــب دا وايـــي پـــه هېچـــا غاښـــونه مـــه لګـــوئ**
**بهبــود بــه نــه شي د ازار نــه چــا بــازار واخيســتو**

**يادوونه:** د مرکزي بغلان په شمال لويديځ د آبقول په سيمه کې يو کلی د «آل خواجه» په نوم يادېږي، «بلوڅان» د مرکزي بغلان په لويديځ کې يو کلی دی.

ketabton.com - The Digital Library



# الفبا توري

شروع په بسم الله کړم، الف اسم د سبحان دی
ب ـ بنده ته ت توبه کړه، بیا ارمان دی

ث ـ ثواب طلب کړه، ج له جلاله ویرېږه
خ ـ که خدای راضي شي، د دلیل ځای دې جنان دی

ذ ـ ذکر د رب کړه، ر روان په سمه لار شه
ز ـ زنکدن کې سین د ساه وتل ډېر ګران دی

شین شکر ګزار شه، ص صفا ده لار معلومه
ض ـ په ضلال نه شي، ط شیطان دښمن انسان دی

ظ ـ په ظلم زور ع په عاجزو ستم مه کړه
غ ـ غالبه خدای دی، ف فقیر ځان دی ناتوان دی

ق ـ قابله ځان کړه، ک د کبر منزل ګوره
ل ـ لا څو ژوندي یوو، م مړي جوړ په قبرستان دی

ketabton.com - The Digital Library



ن  ـ نکيــــر پـــه قــــبر و واحــــد کـــوي پوښــــتنه
ه ـ هغه به ځواب ورکړي چې تېر کړی يې ايمان دی

ل  ـ الـــف همـــزه الم يـــا نېــک نظيــــر شـــو
ی  ـ ای هــادي ربــه رحمــت خــو بــې پايــان دی

خلاصـــه الــف بــا شـــوله د شـــعر پــه ژبــه بانــدې
کــرم د رحمــت وکــړي غايــب غـرق پــه عصـيان دی

ketabton.com - The Digital Library



# کوږ چنار مشاعره

مشـــاعرې وي شـــاعران وي زه دې نـــه یـــم
تـــل خوشـــحاله دې یـــاران وي زه دې نـــه یـــم

کـــوږ چنـــار بـــه ســـم چنـــار شي چـــې قـــوت وي
هـــر ضـــعیف دې پهلـــوان وي زه دې نـــه یـــم

لکـــه ســـتوري پـــه اســـمان کـــې وي روښـــانه
هـــم دې تنـــدر هـــم توپـــان وي زه دې نـــه یـــم

د خوشـــحال او د رحـــمان شـــمع تـــرې غـــواړم
هـــر یـــو پـــوه لکـــه لقـــمان وي زه دې نـــه یـــم

هـــر میـــدان کـــې یـــې بـــرى لـــه خدایـــه غـــواړم
د دنیـــــا دې اتـــــلان وي زه دې نـــــه یـــــم

تـــر ابـــده بـــه حیـــات وي مرګـــى نشـــته
پـــه انســـان کـــې انســـانان وي زه دې نـــه یـــم

ketabton.com - The Digital Library



**يو بيت شـعر بـه يـې پـه درسـت جهـان ور نـه کـړم**
**مـــا تـــه ګـــران د خپلـــه ځـــان وي زه دې نـــه يـــم**

**معلــــومېږي چــــې شــــفا مــــې د هــــر رنــــځ دی**
**هــم طبيـــب وي هـــم درمـــان وي زه دې نـــه يـــم**

**غايـــب بـــل تـــه پـــه دعـــا دی ځـــان يـــې هېـــر دی**
**تــــل دې دا ارزو ارمــــــان وي زه دې نــــــه يــــــم**

ketabton.com - The Digital Library



# بد ملګری

بـــــد ملګــــــری چـــــې دې مـــــــل شي
بـــــه قســــــمت بــــــه دې بـــــدل شي
پـــــه فضــــــول بـــــه عــــــادتي شــــــې
پـــــه عقبــــا کـــــې بــــه خجـــــل شي
بـــــــد يـــــــار د ابلـــــــيس ورور دی
پـــــه ذلـــــــت بانـــــــدې دې پـــــل شي
نفـــــس شـــــيطان او بـــــد همـــــراه شي
د ايـــــــمان څخـــــــه تخـــــــل شي
درې طــــــــــــرف د بلاګـــــــــــانو
ترينـــــه خـــــلاص پـــــه کـــــوم يـــــو چـــــل شي
د بـــــد يـــــار و زور تـــــه ګـــــوره
پـــــه خپـــــل کـــــور کـــــې اور پـــــه بـــــل شي
د بـــــد يـــــار نـــــه چـــــې بيـــــزار شي
افـــــــرين پـــــــه دې عاقـــــــل شي
د بـــــد يـــــار نـــــه تـــــور مـــــار ښـــــه دی
د غايــــــب دغـــــــه متــــــل شي

ketabton.com - The Digital Library



# غلط

يقين د محبت په بې وفا نه شي غلط
ظاهره کې د ښکلو په خندا نه شي غلط

په حسن او ځواني باندې غرور لوی ناپوهي ده
حسنونه خاورې شوي وار به ستا نه شي غلط

د دنيا خيال و هوس د خوب ليدل دي نور څه نشته
يو پړک دی يوه لمبه ده په رڼا نه شي غلط

د ښو يې غشی جوړ دی د زړه وينې پې وباسي
د ظلم او ستم په انتها نه شي غلط

دلبره ستا په مينه کې صادق يم باور وکړه
رقيب په دې سرو سترګو په ژړا نه شي غلط

و سترګو ته مې ګوره ستا د مينې اوښکې څاڅي
کاذبې اوښکې نه دي ته پر ما نه شي غلط

مستقيمې لارې درومه دنيا پاتې ده غايبه
وفا او بقا نشته په دنيا نه شي غلط

ketabton.com - The Digital Library



# سترګې

خړې بورې سترګې، سپین مخ ونه د چنار لري
بانه شول لکه غشي انګي لکه انار لري

پوزه یې مایله څومره ښکلې ورسره ښکاري
څه عجیبه شونډې مې جانان د نوبهار لري

څو خبرې یې وکړلې په مینې باندې ما سره
څه ښکلې خندا لري او څه ښکلې ګفتار لري

ښه ونه رسا لري باریکه لیلا ښه ښکاري
دغه صورت خوښ زما رقیب په کې څه کار لري

تندی او خولې صفت یې دا هم وړ د ستایلو دی
زنه یې منه شوه مړاوې زلفې په رخسار لري

زړه مې په ټوپونو شي دا ستا د مخ لیدلو ته
لیلا مخ را څرګند کړه چې غایب ستا انتظار لري

ketabton.com - The Digital Library



## مورجانۍ

تــه وې ميزبانــه ســتا شــيدو بــه مــې تغذيــه کولــه
دا ستا بــې شــمېره شــبګيرې بــه زمــا هېــرې نــه شي

د شـــو او بـــدو تميـــز نـــه و، مـــرور بـــه شـــومه
د جــان قربــان د نــاز شــېبې بــه زمــا هېــرې نــه شي

زمـــا سره دې پـــه وړه ژبـــه خـــبرې کړلـــې
ســتا د بچــو بچــو نــارې بــه زمــا هېــرې نــه شي

زمــا د خــاپوړو خــو قدمــه خوشــحالي وه پــه تــا
ســتا د لاســونو اشــارې بــه زمــا هېــرې نــه شي

ګرانې مور جانې ته مــې مينــه وې د ژونــد تــر پايــه
ســپيرې ســپيرې ســتا هــديرې زمــا هېــرې نــه شي

بـــې انتهـــا دې صـــفتونه دي غايبـــه پـــوه شـــه
خــوږې خــبرې او قيصــې بــه زمــا هېــرې نــه شي

ketabton.com - The Digital Library



## موبايل

موبايـل کـې ګـانې ګـورم نـه د مشـــر پـه منـت يـم
د ګټــې د کــار نــه يـم نــه هېچــا تــه ملامــت يــم

د کارت به دروغجـن شـم چـارج هـم نشـته ده لاليـه
د جېب پـه موبايـل بانـدې ځوانـانو کـې اوچـت يـم

ګانې د کنجشکک مـې دي ثبـت کـړي موبايـل کـې
چې را ټول په ما ځوانان شي بيا د ټولـو د صـفت يـم

د کـور و تبـاهي تـه مـې بـس دا ليځـې را نغښـتلي
ځوانان راته ښه وايـي مـور او پـلار تـه مصـيبت يـم

د ښــو پــر ځــای د بــدو ګټــه واخلــم مبايــل نــه
پــه کومــه لار روان يــم چــې ګوښــه لــه شريعـت يــم

سر ټيــټ ســترګې مــې ښــکته لــوفري يــم شرمــولی
راتلونکې شوله ورانــه چــې اختــه پــه دې لعنـت يـم

ketabton.com - The Digital Library



نه مې خپله لار صحيح کړه نه بـل چـا تـه پـه خـبرو
نه مې خپل ځان پېژندلی نه خـبر پـه مسـووليت يـم

نه مې شرم له چا کېږي رينګ مسکال مې شوله دنده
نه په سيال او غم پـوهېږم نـه خـبر زه لـه غيـرت يـم

خوله دې بنـده کـه غايبـه مـه کـوه سـپينې خـبرې
که هزار ځله مې ګرم کـړې زه پـه جهـل سـلامت يـم

ketabton.com - The Digital Library



# ولور اخیستل

لار د ذلـــت د رواجونـــو بیـــا دا لار څـــه پکـــار
چې خدای ج رسول وي ترې ناراضه هغه کار څـه پکـار

ښـــځه او نـــر دواړه اللـــه خپـــل بنـــده گـــان گـڼلي
لـه دې نـه مـه کـوه انکـار دغـه انکـار څـه پکـار

ظلـم چـې وکـړو، چـا یـې غـم، چـا یـې سـزا ولیـده
چې خور او لور په کې زخمي شوه دغه ښکار څـه پکـار

د لـور پـه وینـو پـه دې ظلـم زوی تـه کـور جـوړوي
چـې دا تمیـز و، د دې پـلار وایـه دا پـلار څـه پکـار

رواج ولـور یـې خپـل ځـان تـه قـانون جـوړ کـړی
دا ظلـم مـه کـوه اظهـار داسـې اظهـار څـه پکـار

د گـــل ښـــکلا مـــزه کـــوي د خپلـــو گلـــو سره
چـې پـرې گلونـه زخمـي کېـږي هغـه خـار څـه پکـار

ketabton.com - The Digital Library



لا هــم تــر اوســه بــوډا وینـــي د ځــواني خوبونــه
په کړوپه ملا لاس کې امسا په غاړه هار څه پکار

که په لکونو ولـور واخـلي پـرې بهبـود بـه نـه شي
غایبــه ځــان بــه کــړي ازار د بــل ازار څــه پکــار

ketabton.com - The Digital Library



# وژاړم

زه پـــه ولـــس کـــه پـــه وطـــن وژاړم
لـــه کـــوم ظـــالم لـــه کـــوم دښـــمن وژاړم

هـــم پـــر وطـــن هـــم پـــر بـــدن راتـــه بمونـــه اوري
پـــه کـــوم بلبـــل پـــه کـــوم چمـــن وژاړم

اوس د گلونـــــو ځـــــاى اغـــــزو نيـــــولى
پـــه کـــوم بـــورا پـــه کـــوم گلشـــن وژاړم

څـــوک پـــه مرمـــۍ څـــوک پـــه بمـــو ټـــوټې شـــول
پـــه کـــوم پرهـــر پـــه کـــوم بـــدن وژاړم

ولـــس يـــې ســـپر ونيـــوه هـــر توپـــان تـــه
لـــه کـــوم رهـــبر لـــه کـــوم واکمـــن وژاړم

د ولـــس کـــور خـــو ســـوله ســـاتو وران کـــړ
پـــه کـــوم يتـــيم پـــه کـــوم غمجـــن وژاړم

وجـــود يـــې نشـــته پـــه بمـــو الـــوتى
پـــه کومـــو وينـــو کـــوم کفـــن وژاړم

ketabton.com - The Digital Library



لــــه کـــوم فســـاد لــــه کـــوم زيانکـــار وژاړم
لــــه کـــوم يـــو غلـــه لــــه کـــوم رهـــزن وژاړم

پـــه څلـــور خـــواو کـــې دوســـتان نـــه لـــرو
لــــه کـــوم غـــربي لــــه کـــوم جـــرمن وژاړم

وطـــن ولـــس غـــم لــــه غايـــب سره وي
پـــه کـــوم پـــردي پـــه کـــوم ميـــين وژاړم

ketabton.com - The Digital Library



## تېر شو

د ورځــې تلــى نــه شــو د شــپې بــه تېــر شــو
د رقيبـــانو تـــر كـــوڅې بـــه تېـــر شـــو

زه يـــې پـــه مينـــه بانـــدې ګـــرم ګڼلـــى
بــس د هــر چــا د دې لانجــې بــه تېــر شــو

مـــا تـــه د زړه خـــبرې ســـپينه كـــوه
د دغـــې پټـــې اشـــارې بـــه تېـــر شـــو

هــر څــه چــې تېــر شــول بېرتــه نــه جــار وځــي
راځـــه لـــه دې زړې كيســـې بـــه تېـــر شـــو

مــا درتــه ويــل چــې د زړه حــال مــه وايــه
د ظـــالم وخـــت د دې څپـــې بـــه تېـــر شـــو

پـــه دې مالـــت كـــې غـــمازان اوســـېږي
لــه دې خپــل كــور او خپــل دېــرې بــه تېــر شــو

ketabton.com - The Digital Library



اوس هــر ګړنــګ بــه تــل همــوار ګڼــو مــوږ
د خپــل ژونــدون لــه دې اسرې بــه تېــر شــو

راځـــه جانانـــه پـــه هـــا بلـــې کـــوڅې
کــه چېــرې بنــدې وي پــر دې بــه تېــر شــو

غايبــه وخــت پــه تــا بــوج شــوی نــه دی؟!
نــور بــه د فکــر اندېښــنې بــه تېــر شــو

ketabton.com - The Digital Library



## معلم

د معـــارف معلمـــه وکـــړه دې تـــه پـــام
پـــــه څلـــورو دېوالـــو ولاړ دی بـــام

هڅوونـــــه د تېـــــر درس او نظافـــــت ده
هـــم د نظـــم دســـپلين لـــره مـــدام

پـــه هـــر دم قـــدم کـــې وار بيـــا د موضـــوع شـــو
پـــه همـــدې کـــې شـــاګردان پـــوه کـــړه تمـــام

د مشـــق او تمـــرين کـــار درېـــيم قـــدم دی
پـــه مشـــق پـــانو کـــې لايـــق دی کـــه ناکـــام

څلـــورم ارزيـــابي د تـــدريس وکـــړه
نـــو هلـــه بـــه بيـــا تـــدريس شي اخـــتمام

دا څلـــور جامـــه اوبـــه پـــه شـــاګرد وڅښـــه
پـــه مانـــا کـــې بـــه شـــيرين شي ســـتا کـــلام

ketabton.com - The Digital Library



نــو ســم اخلــه پــه احتیــاط څلــور قدمــه
غوړېــــدلی دی پــــه هـــــر قــــدم کــــې دام

هــم پــر تــا بانــدې لازم درسي مــواد دي
لټــوي بــه یـــې کــه ورځ وي کــه ماښــام

تــه د درس مشــاهدي تــه بیــا چمتــو شــه
چــــې دې لــــرې نــــواقص؛ واورئ پیغــــام

ketabton.com - The Digital Library



## امنيت غواړو

بــې پوســتې او بــې ســنګره امنيــت غــواړو
بــې لــه ټانــګ بــې لــه رنجــره امنيــت غــواړو

نـــه نـــاټو او نـــه د پاســـه بمبـــار غـــواړو
بـــې ټوپکـــه بـــې عســـکره امنيـــت غـــواړو

چـــې نـــا حقـــه خواهشـــات و مـــخ تـــه بيـــايي
ټولــه غــرق شــو بــې ګــودره امنيــت غــواړو

بـــې خطـــره افغانـــان غـــواړم وطـــن کـــې
لـــه پـــاميره تـــر خيـــبره امنيـــت غـــواړو

دا مظلـــوم ولـــس تبـــا شـــو بـــې قصـــوره
زخمـــي مـــړه شي نـــا بـــبره امنيـــت غـــواړو

حـــق ولاړ بـــه همېشـــه پـــه خپـــل مقـــام وي
باطـــل وخـــوړل ککـــره امنيـــت غـــواړو

ولـــې ســوله خوشــحالي نــه راوړي کــور تــه
لـــرې لاس کـــړي لـــه خنجـــره امنيـــت غـــواړو

ketabton.com - The Digital Library



افغانــان کــه امنیــت غــواړي امنیــت نشــته
اوبــه خــړې دي لــه بــره امنیــت غــواړو

چــې حــاکم مــو امــین نــه وي امنیــت نشــته
پــه زور نــه کېــږي پــدره امینــت غــواړو

دا نــاټو او دا فســاد بــه زمــه وار وي
ولــس لــرې او لــه شره امنیــت غــواړو

بُن کې جـوړ چــې حکومـت شـو دا مـو حـال دی
کیســه ورانــه شــوه لــه سره امنیــت غــواړو

هــر ظــالم همــدې ولــس پــه مخــه کــړی
لــرې نــه ده دا خــبره امنیــت غــواړو

زمــوږ ټولــو دا یــو ســوال دی ربــه تــا تــه
وطــن پــاک کــړې لــه کــافره امنیــت غــواړو

صــداقت او اعــتماد غــواړو غایبــه!
ګونــدې ورځ مــو شي بهــتره امنیــت غــواړو

ketabton.com - The Digital Library



# هجران

په قسمت کې مې هجران شو راته مه وایه مه ژاړه
ستا دیدن مې ډېر ارمان شو راته مه وایه مـه ژاړه

ستا یادونه مې ای یاره والله خوب کـې ژړوي تـل
زخمي زړه مې بې درمان شو راته مه وایه مه ژاړه

په بدن مې لړزه راشي چې رقیب دې څنگ کې گورم
لوند په اوښکو مې گرېوان شو راته مه وایه مه ژاړه

چـا تـه وژاړم صـنمه وایـه کـومې خواتـه لاړ شـم
په لمسون خپه جانان شو راتـه مـه وایـه مـه ژاړه

بې وفا غوبړونه نشته، که هر څو چیغې فریاد کـړم
بس په صبر مې گوزران شو راته مه وایـه مـه ژاړه

تور د سترگو به مې سپین شي که مې ته په نظر نه شوې
سود خو نشته ډېر مې زیان شو راته مه وایه مه ژاړه

ketabton.com - The Digital Library



نه به ورک د سترګو نم شي نه به دا راته مسکا کړي
اور په ما پورې بغلان شـو راتـه مـه وايـه مـه ژاړه

د ماهي په شان په وچـه کـې ولیـدلی یـم غایبـه
یار مې ستوری د اسمان شو راته مه وایـه مـه ژاړه

ketabton.com - The Digital Library



# انتظار ایستلی

ګرانه و تا ته مې په شپو شپو انتظار ایستلی
په خپله ما د زړه په مینځ د مینې تار ایستلی

د چا رضا ده چې د ښکلو صفتونه کوي
ما خو په ټولو ښایستونو کې خپل یار ایستلی

اوس به د لمر وړانګې زما بدن زخمي زخمي کړي
ظالم رقیب راته د سورې ها چنار ایستلی

جانان د لرې اشاره کړه لاس په لاس به ګرځو
چې ور نزدې شوم له لستوڼي څخه یې مار ایستلی

د بې وفاو زړه په هېچا باندې نه یخېږي
بیایې د چا د زړه ویشتلو ته یې وار ایستلی

کله وفا کله جفا په دې زه ښه پوهېږم
خپل سر دې وخوري چې چا مینه کې دا کار ایستلی

په بدې ورځې مې ته ښه وپېژندلې اشنا
تا خو په ښې ورځې کې نوم د افتخار ایستلی

ketabton.com - The Digital Library



بابا به ولې په خپل کړي احسان ونه ژاړي
په اخر عمر کې له کوره له اختيار ايستلی

په ناداري خو ښايسته غايب بدرنګه ښکاري
نن دنيادار احمق سړی هر چا هوښيار ايستلی

ketabton.com - The Digital Library



## ته لا خاندې ولې؟

ډېرې ترخې مې ورځې شپې شوې ته لا خاندې ولې
اوښکې مې تویې سترګې سرې شوې ته لا خاندې ولې

هره جفا دې زما په زړه باندې داغونه ایښي
چې د رقیب خواته نژدې شوې ته لا خاندې ولې

د عشق لمبې دې زما د زړه وینه را وچه کړله
لا مې د زړه غوښې را پرې شوې ته لا خاندې ولې

دا زه منمه چې وفا به خدای در کړي نه وي
سمې خبرې دې کږې شوې ته لا خاندې ولې

غماز دا ستا کوڅې ته پرې نښودم، شوم مایوسه
زما وړې وړې سلګۍ شوې ته لا خاندې ولې

بس د وفا تمه په تا کې یاره پاتې نه شوه
د غایب زړه درته ښېرې شوې ته لا خاندې ولې

ketabton.com - The Digital Library



# ځيرې کړم

و چا ته وژاړم، و چا ته خپل ګرېوان ځيـرې کـړم
فرياد مې نه اوري که ټول کميس پر ځان ځيرې کړم

هـر چـا د خپلـو خواهشـاتو پسـې منـډه کـړې
که زه هر ځو په چيغو چيغو خپل دهـان ځيـرې کـړم

د وفـا بـوی خـو دې زمـا تـر پـوزې نـه رسـېږي
د بې وفا جانان تصوير به پـه ډېـران ځيـرې کـړم

نه مې خوشحال سپرلی په ژوند چېرې مسکان ليدلی
دغه تياره سـپېره لمـن بـه د خـزان ځيـرې کـړم

پرېږده طبيبه چې مې وينې په دې خاوره ځاځي
زخم، ملهم ټولې پټۍ بـه د پاسـمان ځيـرې کـړم

که د افغان په غيرت باندې ځوک تور شال غوړوي
هم به يې تاريخ، هم به يې فرهنـګ، هـم بـه يــې
ديــــــــوان ځيــــــــرې کــــــــړم

ketabton.com - The Digital Library



بیدار شه وخت دې د هغه ننګ او د غیرت راغلـی
دا د غفلت درنه بړستن به د پاسـبان خیـرې کـړم

رقیبــه ســتا پــه دې ســخا کــې د ریــا نښــه ده
تعجبه نه ده که ګیلم، که دې سـترخوان خیـرې کـړم

کــه د غایــب سره پــه غــم د ولــس چــا نــه ژړل
قلم به مات کړمه کاغذ به پسې وران خیـرې کـړم

ketabton.com - The Digital Library



# نه به ژاړم

نــه بـــه ژاړم، نـــه بـــه ژاړي، نـــه بـــه ژاړې
نـه بـه غـواړم، نـه بـه غـواړي، نـه بـه غـواړې

پـه هــر حــال کــې د مظلومــو خــبردار يــې
مــرګ او غــم زمــوږ ولــس پــه کــې رانغــاړې

پـه خپـل ژونـد مـو خوشـحالي مينـدلې نـه ده
نـــن د يـــو ســـبا د بـــل زېـــرى بـــه راوړې

دغـه حـال ژونـدون تـريخ کـړى د هـر چـا دى
د نـــن يـــو ســـبا د بـــل سر تـــه ولاړې

څـــه ګنـــاه مـــو ده ظالمـــه وايـــه ولـــې؟
پـــه دې ښـــکلو، ښايســـتو مـــو خـــاورې واوړې

پــر ماشــه چــې ګوتــه ږدې نښــه صــحيح کــه
تـا خـو زمـوږ کـړې بـې ګنـاه خـونې ويجـاړې

ketabton.com - The Digital Library



هــر قــوم ګــوره خوشــحالي سره ژونــدون کــا
مــدام رو رو زمــوږ لــه ســترګو اوښــکې لاړې

دغه حال کې هم به مــړه يــوو، هــم بــه پــړه يــوو
نشــته هېڅــوک لــه مظلــوم سره هــم غــاړې

چـــا تـــه وژاړو و کـــومې خواتـــه لاړ شـــو
غايـــب ځکـــه وروي پـــه خپـــل سر کـــاڼې

ketabton.com - The Digital Library



# ☙ تېروو ❧

دا یــو غــم زمــوږ نــه دی هــزار بــار غــم تېــروو
خلاص نه شــو لــه ګــوزاره بــل ګــوزار هــم تېــروو

د دیــن، وطــن لپــاره زمــوږ هــر څــه قربــاني دي
زموږ ژوند خدای(ج) په لاره پــه دې لار هــم تېــروو

ظالمــه ســتا نــه مخکــې دا زمــوږ جــونګړه ورانــه
اوس وار غربیــه ســتا دی، ســتا بمبــار هــم تېــروو

هېڅ وخت زموږ بدن د دې پردو زخمو خلاص نه شــو
دا سرې لمبــې لا څــه دي ســور انګــار هــم تېــروو

د موسی هغه امسا یوو، هېڅ توپیر نشته په مــوږ کــې
دا مــار او لــړم څــه دي ســور ښــامار هــم تېــروو

د روس ټوله اســیا مــونږه لــه ســتونې تېــره کــړې
مخ تــه دا فرعــون راغلــی دا هوښــیار هــم تېــروو

ketabton.com - The Digital Library



ازادي و لوی نعمت ته زموږ هـر څـه قربـاني دي
زنـــدان چـــې تېـــروو زخـــم پرهـــار هـــم تېـــروو

غایبـه افغانـان بـه شـهیدان یـا بـه غازیـان شي
اغیـــار هـــم تېـــروو ورسره یـــار هـــم تېـــروو

ketabton.com - The Digital Library



# اندېښنه زياته شوه

د هرې ورځ په تېرېدو مې اندېښنه زياته شوه
بلا دې واخلمه طالبه ستا خرڅه زياته شوه

دا غر او پر او د سکوټرو بې مطلبه رفتار
د کوم درګه دې طالبه دا پيسه زياته شوه

مظلوم ولس سپوره ډوډۍ خوري بس ناچاره به وي
ته ګوشت، پلو، ښورواوې خوره ستا خو فايده زياته شوه

د ولسي او د طالب له ورايه فرق معلوم دی
دا خو يې ځکه لباسونو کې مزه زياته شوه

دا بعضې بعضې شکر خدايه راته ښه چاغ شوي
وايه لاليه دغه ستا غوښه په څه زياته شوه

هغه تريخ وخت او ترخې شپې د پرون مه هېروه
شکر وباسه اوس خو ټوله منطقه زياته شوه

ketabton.com - The Digital Library



ته د ولس په دې ناخوالو باندې ځان خبر کړه
که مثبت کم شوه د منفي بيا نتيجه زياته شوه

لارې سړک ولسه جوړ که ثوابونه ډېر دي
د ثواب کار پخپله نه کړې دا لانجه زياته شوه

هر يو واکمن به د مظلوم ولس ځواب ور کوي
مه هېروه که دې په ژوند کې ورځ او شپه زياته شوه

غايب قسم خوري ما خو ډېر واکمن ذليل وليدل
چا چې د خپل مظلوم ولس نه فاصله زياته شوه

ketabton.com - The Digital Library



## د نوروزک د پېښې يوه خاطره

يــوه قيصــه درتــه کومــه د خپــل کــلي نــوروزک
يو ميين و چا خبښ کړی دا پــه مــنځ کــې د سرک

انفجار شو پر رنجرې پــه هــوا پورتــه ټــوټې شــوې
نه رنجره نــه کســان ول لــه يــو مخــې شــوله ورک

عسکر د حکومت راغلــل ټــول کلــی محــاصره شــو
اخ و ډب په کــلي جــوړ شــو د مظلــوم نــه و درک

په بې رحمه يې هر څوک له خپل کورونــو را ايســتله
د ټوپــک لرګــي وهــل وو، ويــل وځغلــئ چابــک

د چا ويني يې کړې تويې د چا شنه کــړل بدنونــه
هر عسکر وروره په لاس کې را خيستلی و کوتــک

نه روغ رنځــور مــالوم و، نــه دليــل و، نــه خــبرې
پــه کاڼــه ليــوني بانــدې وارې وشــول د ســټک

ketabton.com - The Digital Library



را جمع ټول ولس کړ سـپکې سـپورې هـم کـولې
مونږه ټوله قطار ناست و هر سړی حیران هک پک

د تعجب خبره دا وه، ویل میـین دی تاسـو ایښـی
چا خو هېڅ نه شو ویلی، و په لاس کې یې ټوپـک

اته کسان یې مورږ پـه دې پېښـه کـې تـورن کـړو
په موټرو کې سپاره کړو هم په لاس یې کـړو ولچـک

یو څو ورځې بندیان و اخر خلاص له دې عـذاب شـو
تر ابـده بـه بنـدیان وای د ولـس نـه وای کمـک

اخر دا مظلوم ولس به دغه شپې چېرې سبا کـړي
د ټوپک میل ورته ښیي هم چې وي لـه قهـره ډک

بې ګناه ګنهکاران شـو د دې خپـل عمـل د لاسـه
را سره که دا عمل وي د خوښي بـه نـه وي څـرک

د غایب دغه ښېرا ده چـې مظلـوم ازاروي څـوک
ته پرې خپور د غم عذاب کړې ته پرې خپور د غم تلتـک

ketabton.com - The Digital Library



# نصیحت

دا به ځمکه دا اسمان وي نه به زه یم نه به ته یې
د ژوند څو ورځې دوران وي نه به زه یم نه به ته یې

نه خو پاتې انبیا شول هر څه خاورو لاندې کړي
تش لاسونه ترې روان وي نه به زه یم نه به ته یې

ربه ستا دا نعمتونه موږ نا شکره بندګان یوو
تا ته ښکته مو چشمان دي نه به زه یم نه به ته یې

په امېد د دې دنیا موږ په اوږده منزل روان یوو
نا ګهانه مرګ عیان وي نه به زه یم نه به ته یې

موږ په غم کې د دنیا یوو د عقبا نه بې پروا یوو
سود مو کم دی ډېر مو زیان وي نه به زه یم نه به ته یې

شپې او ورځې چې تېرېږي موږ لنډېږو قبر خواته
اوس خوښي وي بیا خپګان وي نه به زه یم نه به ته یې

ketabton.com - The Digital Library



نه خلاصېږو له اجله که مو ډېر مـال او دولـت وي
په نمبر سره روان وي نه به زه يم نـه بـه تـه يــې

تور لحد د وحشت ځای دی سر دې ښکته کړه ګرېوان ته
بيا دې تېر ساعت ارمان وي نه به زه يم نه به تـه يــې

نه مو پښــې د عبــادت دي نـه لاســونه د ســخا دي
په هر څه کې مو نقصان وي نه به زه يم نه به تـه يــې

سوال ځواب د ميــزان تلـه د سـقر نـه پنـا غـواړو
نيکي نشته ټول عصيان وي نه به زه يم نه به ته يې

امېدوار يې د رحمت يوو شفيع ته شې يا رسـوله!
دا غايب په وېر د ځان وي نه به زه يم نه به ته يې

ketabton.com - The Digital Library



# بل څه نشته

ږز او ږوز دی هـم بمبـار دی بـل څـه نشـته
هـر سـړی پـه غمـو بـار دی بـل څـه نشـته
خوشـحالي پـه تمـه تمـه عمـر تېـر شـو
ډېـر مـو خـوار دا انتظـار دی بـل څـه نشـته
مـرد هغـه دی د هغـې دنيـا سـوچ وکـړي
دا دنيـا يـو شـپه سـهار دی بـل څـه نشـته
چـې د ديـن او د اسـلام نـه ځـان فـدا کـړي
دا عاشـق پـه کردګـار دی بـل څـه نشـته
هـم د خـدای پـه نامـه ايښـی يـې خپـل سر وي
زه غـلام، دی مـې بـادار دی بـل څـه نشـته
د پتنـګ پـه شـان پـه شـمع بانـدې ځـار شـو
هـم عاشـق دی هـم يـې يـار دی بـل څـه نشـته
سور ښـامار مـو پـه وطـن کـې پـه مـلا پـرې شـو
دا د خـدای د احسـان کـار دی بـل څـه نشـته
چـې د خـدای پـه نامـه تللـی کـوم انسـان وي
غايـب ټولـه ترينـه ځـار دی بـل څـه نشـته

ketabton.com - The Digital Library



# احساس

د عـــزت او د ابـــرو احســـاس بـــه نـــه وي
در کـــوي تـــا تـــه لســـتونی لاس بـــه نـــه وي

کـــه د خولـــه شـــوه پـــه لهـــب ســـترګې ناکـــارې
بربنـــډ نـــه دی د حيـــا لبـــاس بـــه نـــه وي

وروســـته نـــه ګـــوري هـــر څـــوک پـــه مخـــه لاړل
چـــې پـــه ښـــه او بـــد پـــوهېږي قيـــاس بـــه نـــه وي

د نـــا اهلـــو بـــه دا فـــرق لـــه ورايـــه ښـــکاري
هم بې خوله هـم بـې وعـده وي پـاس بـه نـه وي

هغـــه څـــوک چـــې و مظلـــوم تـــه کمـــين ګـــوري
ور نصـيب بـه يـې سوټ خـر وي آس بـه نـه وي

تـــه يـــې څـــه لـــه لټـــوې لـــوړو قصـــرو کـــې
دې ناکـــارو تـــه کـــوز ګـــوره پـــاس بـــه نـــه وي

ketabton.com - The Digital Library



دا دنيــا لــه خطــرو ډکــه لار صــحي کــه
تــل بــه دا اســان منــزل او کــراس بــه نــه وي

د لا مخکــــې پوشــــيده جــــامې د کــــار وي
هــم بــه در، هــم بــه موجــود وي داس بــه نــه وي

زه غايــب بــه تــا تــه داســې مثــال در کــړم
مثلــث قاعــده، ضــلعي وي راس بــه نــه وي

ketabton.com - The Digital Library



## ☙ پاګل يم ❧

چې په خپل ژوند اعتبار کړم غټ پاګل يم
د امېد په تمه کار کړم غټ پاګل يم

د ازار نه چا بازار ليدلی نه دی
دا چې بل چا ته ازار کړم غټ پاګل يم

په خپل تېغ باندې مې دواړې پښې پرې شوې
زه چې بل باندې ګوزار کړم غټ پاګل يم

راته مخکې مې نيکه او پلار پناه شول
زه له دې څخه انکار کړم غټ پاګل يم

د سقر او د جنان لاره معلومه
نفس شيطان په خوښه کار کړم غټ پاګل يم

هېڅ عمل د رهاتوب را سره نشته
دا چې فخر په نامدار کړم غټ پاګل يم

ketabton.com - The Digital Library



چــې پــه ژبــه دې اقــرار تصــدیق پــه زړه وي
تــش پــه ژبــه چــې اقــرار کــړم غــټ پاګــل یــم

دا اغیـــــار خـــــو زمـــــا نیکونـــــو پیژنـــــدلی
دا اغیار چــې ځــان تــه یــار کــړم غــټ پاګــل یــم

راتـــه ګـــران شـــو تـــا تمیـــز د ښـــو او بـــدو
هــر جاهــل ځــان تــه بــادار کــړم غــټ پاګــل یــم

د خپـــل سر تشـــخیص مـــې وکـــړ مغـــز نـــه وه
بــې مغــزو غایــب هوښــیار کــړم غــټ پاګــل یــم

ketabton.com - The Digital Library



## ꧁ کتاب ꧂

نـــــــه ملگـــــــــرى د کتـــــــاب شـــــــوم
نـــــه د چــــا د ســـــوال ځـــــواب شـــــوم

نـــــه د پـــــلار مــــال او دولـــــت شــــــته
نـــــه مَلـــــک شـــــوم نـــــه نـــــواب شـــــوم

نـــــــه صـــــــوفي شـــــــوم پرهيزگــــــــاره
غـــــرق د جهـــــل پـــــه دريــــاب شـــــوم

نـــــه عابـــــد او نـــــه ســـــخي شـــــوم
نـــــه دعـــــا نـــــه د ثـــــواب شـــــوم

نـــــــه طالـــــــــب د ديـــــــــن د لارې
نـــــــه مـــــــلا زه د محـــــــراب شـــــــوم

ځـــــان مـــــې نـــــه دى پـــــه اختيـــــار کـــــې
د شـــــيطان سره پـــــه چـــــاپ شـــــوم [٢]

٢ـ گدېدل

ketabton.com - The Digital Library



د قســــــــــمت كاســــــــه چپــــــــه ده
نـــــه ښـــــوروا نـــــه د كبــــاب شــــوم

د دې حـــــــــرص ظـــــالم د لاســــــــه
نـــــه مـــــړه خېټـــــه پـــــه خـــواب شــــوم

نـــــه مـــــې كســـــب وظيفـــــه شــــته
نـــــه حـــــاكم شـــــوم نـــــه جنـــاب شــــوم

دې نـــــه ورک پـــــه دنيــــا ښــــه يـــــم
زه غايـــــــب ومـــــــه غيــــــاب شـــــــوم

ketabton.com - The Digital Library



## نصيحت

ځـــان کـــې نښـــه د رحمــــت کـــا
بيـــا تـــه تمـــه د جنــــت کـــا

پــــه اوږو ناســــــت ملايــــــک دي
و شــــيطان تــــه حقـــارت کـــا

د ثـــواب پــــه طلــــب درومــــه
پــــه ګنــــاه تــــل نــــدامت کـــا

بـــدن تـــل پــــه بـــدي پــــرزي
د نېکــــانو يـــــې خــــدمت کـــا

پــــه لهــــب کـــې ژونـــدون مـــه کــــړه
تــــل د ښــــو خلکــــو خصـــلت کـــا

هــــم پــــه دواړو کــــې لــــذت کـــا
بنـــــدګي د شريعــــــت کـــا

ketabton.com - The Digital Library



د عبـــــاد حــــق خــــو فـــــرضي وي
هـــــم يـــــاري د جماعـــــت کـــــا

پيغمــــــــبر امتـــــــي وايــــــــي
ځـــان امـــت کـــا ځـــان امـــت کـــا

هـــــر څـــــه تـــــا کـــــړي غايبـــــه
ځـــــان پخپلـــــه ملامـــــت کـــــا

ketabton.com - The Digital Library



# علم

نــه مــې دولــت نــه مــې حســاب پــه کــار دی
زمـــا قلـــم، کاغـــذ، کتـــاب پـــه کـــار دی
کـــه عـــزت غـــواړې نـــو پـــه علـــم غـــواړه
نـــه دنیـــادار او خـــان، نـــواب پـــه کـــار دی
بنـــده تـــه وګـــوره دې خپـــل عمـــل تـــه
ســـتا سره هغـــه ســـوال، ځـــواب پـــه کـــار دی
نـــه خپلـــه پـــوه وې، نـــه د بـــل چـــا منـــې
دې لـــټ ځـــاروي لـــره قصـــاب پـــه کـــار دی
پـــه الوتـــو خـــو مرغـــان ټـــول الـــوزي
اوچـــت پـــرواز ســـتا د عقـــاب پـــه کـــار دی
یـــې نـــا اګـــاه ځـــان چـــې اګـــاه بـــولې تـــه
دې بـــې انصـــاف تـــه ســـم عـــذاب پـــه کـــار دی
پـــه علـــم ځـــان پـــوه کـــړه غایبـــه لا هـــم
نـــه دې خوښـــي راحـــت او خـــواب پـــه کـــار دی

ketabton.com - The Digital Library



# خبرې

ته زما خبرې اورې، وايه ستا خبرې کومې دي
په غوسه يې ولې ما ته د خندا خبرې کومې دي

په لټون د غماز ولې اى اشنايه ته خپه شوې
د جفا چې کړې خبرې د وفا خبرې کومې دي

زه ستا په انتظار ومه قاصد ته ډېر ښه راغلې
په بېړه راته وايه د اشنا خبرې کومې دي

وعده دې د سبا کړه ستا سبا دې سل سبا شوه
اوس خو سبا شوې د سبا خبرې کومې دي

ګرم اوس بازار د حسد او کينه بغض شو
کاذب شول مجلسونه د رښتيا خبرې کومې دي

تا به راته ويل چې په هر درد کې دې همرا يمه
ته خو ما پورې خندېږې د ژړا خبرې کومې دي

هر سړى غايبه غلام به تر مطلبه وي
هر څه دنيايي شوه د عقبا خبرې کومې دي

ketabton.com - The Digital Library



# ☙ بلا ور پسې ❧

که خدایدادخېل او که منګل وران شو، بـلا ور پســې
که د ولس کور او غوجل وران شــو، بـلا ور پســې

د خوشحالي نه ډک کورونـه څـه خنـدا وه پکــې
اوس په ژړا رانجه کجـل وران شــو، بـلا ور پســې

مظلوم ولس رنځور په کور کې شو درمل په ارمـان
ورتــه پــه مخکــې لار او پُــل شــو، بــلا ور پســې

عجب هدف دی د ولس مرمـی خطـا نـه درومـي
که د چا مخ، شـا او بغـل وران شــو، بـلا ور پســې

ظـــالم د لـــرې ننـــداره کـــوي همداســـې وايـــي
هغه کور وران شو هغه بل وران شو، بـلا ور پســې

غوړونه نشته کـه هـر څـو پـه چيغـو چيغـو ژاړي
که زراعت، باغ او ځنګل وران شــو، بـلا ور پســې

دا غـــټ توپونـــه او ړنـــدې بمبـــارې ګـــوره ورتـــه
که د يوه پر ځای کې سل وران شو، بـلا ور پســې

ketabton.com - The Digital Library



د موجوده د غم توپان نه څوک محفوظه نه دي
د چا چارګل، د چا اوربل وران شو، بلا ور پسې

د ماشې ګوته به دې تا اشنا په بلا واړوي
د چا چې زړه، د چا ګوګل وران شو، بلا ور پسې

زموږ د سپیرو کورو لوګی او لمبې پورته شولې
که سر او مال مو په یو ځل وران شو، بلا ور پسې

دا د ولس تباهي هر چا خو خپل حق ګڼلی
که د غایب شعر او غزل وران شو، بلا ور پسې

ketabton.com - The Digital Library



# تمه

حرامخوره مې بد ايسي په چرسيانو کې ښه تمه
ډيسکو، فېشن ځوانان شول فاسقانو کې ښه تمه

چې مې ړيره شوله سپينه اوس هر چا ته احمق ښکارم
زامن راته پلاران شول، دې پلارانو کې ښه تمه

چې نه وي سرېتوب نښه د ده ښکلي وجود کې
دا چل او دوکه باز دي لوفرانو کې ښه تمه

په دود سترګې رندې شوې په لمبه نه تاوده کېږي
په دوستۍ به ستا شرمېږي دې خپلوانو کې ښه تمه

خپلوي اوس يو رواج شو او رواج هم پسې ورک شو
ځان پوه او هوښيار بولي هوښيارانو کې ښه تمه

ټولې ونې بې مېوې شوې او صاحب کې مېوه نشته
ولې که ناجو دي چنارانو کې ښه تمه

[3]- يو ډول ونه يا درخته ده، (وله) ورته وايي.

ketabton.com - The Digital Library



چورندک ترېنه بهتر دی په حلالو کې حسـاب دی
کرک شو مردارخور په تور کارغـانو کـې څـه تمـه

عجب وخت دی راغلی چې هر څه مو په لور کج ځي
مشران چې کبرجن شول په کشرانو کـې څـه تمـه

د دین، هېواد احساس په زړه کې نـه لـري غایبـه
پــه داســې عالمــانو، شــاعرانو کــې څــه تمــه

ketabton.com - The Digital Library



## فساد

چـــې پـــه ملـــک کـــې مـــو فســـاد شـــو
حـــق خپـــه شـــو، باطـــل ښـــاد شـــو
دا افـــــت لـــــه کـــــومې راغـــــی
چـــې ملـــوث مـــو ټـــول هېـــواد شـــو
پلمـــــې جـــــوړې د رشـــــوت شـــــوې
د مظلـــــوم د خـــــولې فریـــــاد شـــــو
د خـــــدای وېـــــره زړه کـــــې نـــــه وي
نـــو خـــراب یـــې ژونـــد بنیـــاد شـــو
بـــــدبختي مـــــو پـــــه وطـــــن ده
د فســـاد نـــوم پـــه کـــې زیـــاد شـــو
بنـــــدې شـــــولې د حـــــق چیغـــــې
چـــې منصـــور راتـــه را یـــاد شـــو
صـــــــداقت او وفـــــــا نشـــــــته
ورک پـــه هـــر چـــا اعـــتماد شـــو
کـــه مـــو دا حـــال وي غایبـــه
هـــم تبـــا شـــو هـــم بربـــاد شـــو

ketabton.com - The Digital Library



# پرې ایښی

د سر خطره د هر چا خپل کلي او کور پرې ایښـی
دا خو پردیـو ظالمـانو پـر مـوږ پـور پـرې ایښـی

د خـوار ولـس مـزدوري او روزګـار پـاتې تښـتي
د ډز او ډوز د لاسه هر چا لو او لـور پـرې ایښـی

ترس او ګرمي ده، د ولس ماشومان دښـتې کـې دي
فریاد، ژړا نړدې هر چا خپل او خپل ورور پرې ایښی

تر شنه اسمان لاندې په دښته کې خپه ناست ومـه
مار را څرګند شو ویل زما په کور دې کور پرې ایښـی

مـا ویـل ظالمـه مجبـوري دلتـه راوسـتی یمـه
الله! زموږ ته دې د امن کوم یو لـور پـرې ایښـی

ای زورورو! خدای ته وګـورئ نـور لـرې لاړ شـئ
موږ خو و تاسو ته دا ستا د ټوپک زور پرې ایښـی

ketabton.com - The Digital Library



بې لـه کـافر د بـل د لاسـه دومـره نـه ژاړمـه
د مسلمان په منځ کې تل د نفـاق اور پـرې ايښـی

د هـر بـادار امـر منـو، نـور غلامـان اوسـېږو
د خپل د لاسه مو دا خپل ځان ته پيغـور پـرې ايښـی

دا تبـاهي او بـدبختي پـه مـوږ روانـه وي تـل
دا خو مو ځکه و خپل ځان ته عمل تور پرې ايښی

دغه مظلوم ولس تبـا شـو هـېڅ قصـور يـې نشـته
بس غم، غوسې ته يې غايب تل په تنور پرې ايښی

ketabton.com - The Digital Library



# خارجي زلميانو ته

مه ګرځئ ای خلکو د خارج روپو کیسو پسې
بیا به ارمان وکړئ د خپل هغه تېر وختو پسې

ومې لېږه پلاره چې دا بد ژوند درته ښه کړمه
کوره او وربې خېټه به دې زه درته مړه کړمه
ډېر به دنیادار شې بیا به ګرځې بېلدېنګو پسې

پېژنم دې خویه خپل دوکه را سره مه کوه
دا مې ډېر ښه حال دی نور قرضدار مې د چا مه کوه
بیا به زه ژړېږمه د تېرو ورځو، شپو پسې

زوی ویل باباجانه هغه څوک چې دنیادار دي نن
ښه ماړه اوسېږي بس هر څه یې په اختیار دي نن
په وطن کې ګټه نشته هغه تللي په ملکو پسې

ای بچیه واوره هر څوک ستا په شان لوفر نه دي
خپل په ژوند پوهېږي د دنیا نه نا خبر نه دي
د یوې روپۍ لپاره ځان اچوي ګړنګو پسې

ketabton.com - The Digital Library



ښځې ويـل سـړيه دا زمـا زوی خـو لـوفر نـه دی
ښه غيرتي ځوان دی څوک د ده نه خـو بهـتر نـه دی
په خپله نه پوهېږي ولې خانـدې زمـا بچـو پســې

ولېــږه خــارج تــه چــې زوی وګتــي پيســې درتــه
دا ښايسته زلمی دی ته يې څه له ډېـر رټـې راتـه
سيال او شريک خاندي دا زموږ سپيرو جامو پسې

پلار ويل قرض به وکـړم خـارج تـه زوی لېږمـه زه
ځــان او ورېږې خبېتــه د لاســو پــه يبلــه مړومــه زه
يا به دنيادار شم يا بـه غـرق شـم تـر غـوږو پســې

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*